ژباړن بازمحمد
مسکو، ۲۰۱۰/۲/۱۰

# افغانستان او سپینه ماڼې

د( ښخا مسکوا) دوو ژورنالیستانو ( شورد نادزي سوفیکا ) او (اولګا بیچکوا) د وتلي ژورنالیست (میلور ستوریا) سره د افغانستان په هکله مرکه کړي ژباړه یې د لوستونکو مخې ته کدم

سوال : د افغانستان نه به یې پیل کړو، د امریکا جمهور رئیس بارك اوباما د کانګریس نه ۱۶۰ملیارده ډالر د افغانستان د وسلوالو ځواکونود حاجت له پاره وغوښتل، د دغه پیسو نه ۳۳ ملیارده ډالره د روان کال لګښت دي : زه نه پوهېږم چې دا ښه کار دې او که ښه نه دې ؟ جواب : ستونزه همدا ده چې څوك نپوهېږي په افغانستان کې کوم کاربنه دې او کوم بد.

اوس مهال په افغانستان کې جنګ دې راځي وبې څېړو دا جنګ کوم جنګ دی، استکباري، ازادونکی، اشغال لونکی، عادلانه ، غیرې عدلانه ؟ کوم جنګ دې ؟ امریکایان جنګ په دوه ډوله تعبیروي – حتمي جنګ یعني(تیل شوې جنګ) او انتخابي جنګ، یعني چې ورته یې خوښه وي روښانه کوي : امریکا کولاې شول په عراق ګذار ونه کړي، پلټنه وکړي چې هیواد یې کیمیاوي وسلې لري او که نه ، دا کار یې ونه کړه ا و نیغ په نیغه یې په عراق ورودنګلې او جنګ یې پیل کړه دې جنګ ته (انتخابي جنګ) واي او دا جنګ دوړوکي بوش خوښه وه، او په افغانستان کې چې امریکاپانو جنګ پیل کړې ورته تپل شوې (ضروري) جنګ واې په دې خاطر ورته تپل شوې جنګ واي چې بله لاره نه وه او هلته په افغانستان کې د القاعدې او طالبانو پټ ځالې و، د نړیوال قانون په چوکاټ کې جنګ هم په دوه ډوله (تپل شوې جنګ اود خوښې ) انتخابي جنګ تعبیروي خو دا د ستونزو د حلولو لار نه ده یواځې ځان ته بازي ورکول دي.(( ضروري جنګ )) څه ته واي ؟ که زه وواېم چې د منځکې په سر په هره نقطه کې(( ضروري)) جنګ ته اړتیا ده ددې نه څه په لاس راځې ؟
د دې نه په غیر په افغانستان کې امریکاپان جنګ په دوو مرحلو ویشي :لمړې مرحله: امریکاپان واې په افغانستان کې جنګ عادلانه جنګ دې په دې خاطر چې ترهګر( القاعده او طالب ) له منځه وړي ،
هغه القاعده چې په امریکا کې د راکړې ورکړې نړیوال تجارتي مرکزونه ونړول اوپه پینتاګون یې ملکي الوتکې ور مارش کړې، تر اوسه د طالبانو او القاېدې مشران په لاس نه دې ورغلي اوپه پاکستان کې د پښتنو په ساحه کې چې په غرونو کې اوسېږي پټ دي، دا چې نه یې ملا عمر ونیو او نه یې بن لادېن اوبیا هم دې جنګ ته دوې عادلانه جنګ واې ، عادلانه نه بلکې ربښتیني جنګ دې ، امریکاپان او نړیوال ځواکونه د دې له پاره نه دي راغلي چې بدل واخلي او یا القاعداو طلبان له بینه یوسي بل مقصد لري او د هغې مقصد لاس ته راوړو لو له پاره راغلي دي

هلته په افغانستان کې اوس څه تیرېږي ؟ که په واقیعت سترګې پټې نه کړود روسېي دولت هلته په احمقانه حالت کې دی، په روسېي کې عام خلك او میډیا په افغانستان کې د جنګ ضد د ي اوغندي ، او دولتي چارواکي بیا د امریکا او متحد هیوادونو سره چې په افغانستان کې په جنګ بوخت دي مرسته کوي: خپله خاوره یې ورته په خدمت کې ورکړې اود روسېي د خاورې نه افغانستان ته وسلې وړي ،دا هم په زړه پورې ده چې هېڅوك نه پوهېږي چې ددې جنګ ماهیت په څه کې دی، د روسېي دولت ته دا جنګ په څو دلایلو په ګټه دې : اول –داچې امریکاپان په افغانستان کې راګېر دي د روسېي واکمنان خوشحاله دي ، المانیان واې ( شاډ بن فراېد) په زړه پوري : روسانو دا دوزخ لېدلې، پرېږده چې اوس یې امریکاپان او دهغې اندېوالان ووېني .
دوهم : روسېي دولت د اسلامي بنیادګرانو نه وېره لري ، او همداسې د نېشه یي توکو نه چې په ټوله روسیه کې یې ځوانان محطآط دي او ۹۰٪ هیروین د افغانستان نه روسېي ته راځي که د امریکاپانو په واسطه د اسلامي بنیادګرانو او مخدره توکو مخه و نیسي مجبور دي خپله اقدام وکړو
سوال: کولاې شم داسې پوښتنه وکړم ؟ اوګورې تاسو واې چې په افغانستان کې جنګ د روسېي دولت په ګټه دې، بلي ؟ ځکه مونږ د هیروینو اواسلامي بنیادګرانو نه وېرېږو، دا سمه او د فهم وړ هم ده چې افغانستان زموږ ګاونډي هیواد دې، تاسې وویل چې دا جنګ تپل شوې جنګ دې، سوال دادې چې امریکاپان ولې او د څه نه په افغانستان کې ببربېږي ؟

جواب : اوس امریکاپان په هغه حالت کې قرار لري چې یو وخت د روسېي دولت لره ، لاره تري ورکه وه چې په څه شان د افغانستان څخه پښي سپکې کړي، تاسې پوهېږې چې خبره په څه کې ده ؟ کله چې یو هیواد په کوم بل هیواد وسلوال تیرې وکړي او وسلوال ځاکونه یې هغه هیواد ته ورننوځي ببرته وتل تري ناکامي ده او د ناکامي نوم هغه هیواد په ځان پورې تړلې شي چې زور نه لري ، کله چې امریکا د وېتنام څخه خپلې قواوې وېستلې دا د امریکا له پاره لویه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

ماتې او د غم ورځ وه، او کله چي د روسانو لښکرې د افغانستا ن څخه وتلې سره له دې چي د ګروموف سور بېرغ په مخکې ځلانده روان و بيا هم د روسيې له پاره ملا ماتونکې تراژېدي وه ، او دا امريکايان نه غواړي ، روښانه خبره ده چي اوباما بې هم نه غواړي ، که اوس له افغانستان څخه قواوې وباسي د ټولټاکونو په دوهم تور کې هيڅ کله برياليي کېداې نه شي ، مشهور سياستي شنونکې(ګېرې اوېلس) واي که چېرې اوباما پو لوې شخصيت وي ، بايد ددوهم ځل جمهوري رياست قرباني ورکړي او کلك هوډ وکړي او د افغانستان نه وسلوال ځواکونه وباسي

پوښتنه : چي داسي ده بايداوباما د اول نه افغانستان ته پاملرنه نه وې کړي ، ځکه هغه د جنګ په ضد د شعار تر نامه لاندې جمهور ريس شو هغه نه شو کولاې چي افغانسان ته پاملرنه ونه کړي پوښتنه : نه بې غوښتل خو وې ويل.

جواب : اصل خبره په دې کې ده چي اوباما انتخابي جنګ غنده د عراق جنګ چي بوش پيل کړې و د (بوش د جنګ( په نوم يادوه ، که چېرې اوباما ددې سره غبرګ وېلې واي (( چي راځي د افغانستان څخه قواوې وباسو)) په هغه وخت به بې د هيلرې کلنټن چي وتلې او پيژندلشوې سياست کونکی و ه په وړاندې بې ټولټاکنې بايللې ، کله چي وړوکي بوش په عراق د حملې تکل وکړه هيلرې کلېنټن ورسره هم نظره وه او اوباما نه وو.هغه نه شو کولاې چي په پو وار داسي دوه غټ وړاندېزونه چي (( مونږ د عراق اوافغانستانه وځو )) عملي کړي ، ډېره ستونزمنه وه چي دا کار بې کړاې واې ، اوباما پوهېده که دا کار وکړي ټولټاکنې نه شي ګټلاې ځکه په امريکايانو خپل هېواد ډېر ګران دې او نه غواړي چي وسلوال ځواکونه بې چي په کوم هېواد منګولې خښې کړي په اسانې پرېدي، او کله چي د جمهوري خوا ماکېن سره مقابله شو دلته بې بيا غوړه مالي کوله، اوګورې کله چي اوباما تصميم نيوه چي افغانستان ته نور ۳۰۰۰۰ وسلوال ځواکونه ورننه باسي د ډېر فکرنه وروسته داسي ووېل (( چي زه دا قواوې افغانستان ته لېږم خودا وايم چي په ۲۰۱۱ کال کې به بېرته خپل هېواد ته راستنېږي )) .

دادې ۲۰۱۰ کال ورپسي ۲۰۱۱کال ددې امکانات نه شته چي اوباما دې خپلې قواوې د افغانستان نه وباسي خو اټکل بې سم دې ځکه په ۲۰۱۱ کال کې د دوهم ځل له پاره د ولسمشرې ټولټاکنې پيل کېږي او ددې شعار تر نامه لاندې کېداې شي ټاکنې وګټي اګر چي ورته ګرانه به وي ځکه همدا اوس د ستونزو سره لاس و ګرېوان دې (( که ده په اول کې وېلي واې چي د افغانستان څخه قواوې باسم ځکه لاس ته راوړنې نه لري )) اوګورې څو ورځي مخکې په لندن کې د افغانستان له پاره نړېوال کنفرانس رابلل شوې و څه نتيجه بې ورکړه ؟ وې وېل راځي طآلبان په پيسو راونيسو او د ځان پلوېان بې کړو

پوښتنه : د لندن په کنفرانس کې زمونږ پشنهاد د خندا وړ و زه ځان ته دا اجازه ورکوم چي ددې خندا وړ سوال پوښتنه له تا وکړم ...

جواب : د لندن په کنفرانس کې د روسيې دولت وړانديز عملي بڼه نه لرله بواځي پروپاګندي اړخ بې لاره زمونږ وړانديزونه د لندن په کنفرانس کې د کنفرانس د ګډونوالو د خندا وړو اومونږ ته دلت د خندا ..

پوښتنه :د روسيې دولت وړاند يز دا و (( که امريکا او ناټو هېوادونه پيسي ورکړي مونږ په افغانستان کې خپلې وراني ويجاړې پوروژې بېرته په پښو ودرو )) ډېر ښه .

جواب : بلې په افغانستان کې شوروي اتحاد د فرهنګ او کلتور( دوم کولتور) ستره وداني ودانه کړې وه مونږ تل په نورو هېوادونو کې بواځي کولتوري او سپورتي وداني ابادوو .

پوښتنه :او کتابخانې..

جواب : مونږپه کابل کې د( دوم کلتور) ودانۍ اباده کړه ، تاسو پوهېږې چي اوس دهغې سترې ودانۍ سرنوشت څه دی ، هغه ستره ودانۍ نن ورځ په نړې کې د نېشه يانو د راټولېدوسترمرکز دې،په ريښتيا هلته نن ورځ نه څوك ټنګټکور کوي او نه نڅاګانې، بو وخت و چي هلته د روسيې مشهور هنرمند (کابزون ) به په افغانستان کې د مېشتو وسلوالو ځاکونود سربازانو او افسرانو د مورال لوړلو په خاطر کنسرتونه ورکول چي اوس هغه ښکلې وداني زېر زميمي ده کله چي هلته ور ښکته شي بواځي د هېروينو او مور فوينو محتاط په کې رغړي چي په لېدو بې د سړي غونې رازېګېږي.

پوښتنه : دا مانا چي هلته اوس ډېران دې ؟

جواب : بلې دا په ريښتيا دوزخ دې ، ځما په فکر زمونږ وړاند يز د لندن په کنفرانس کې تبليغي اړخ لاره ، مخکې به مونږ د ملل متحد غوندو ته د سولې د پيشنهادونو سره ورتلولوچي نړې بې جنګه او بې وسلې وي، که ريښتيا ووېل شي هغه کار مونږ اوس نه کوو ځکه چي وسلې ونه لرومونږ ته څوك د سوپر( ستر) ځواك په سترګه نه ګوري پوښتنه : بلې اوس خو دامريکا د سياست کونکو ډله راغلې چي شعار بې هم دادې چي وسلې بايد نه وي.

جواب : خبره په دې کې ده چي د امريکا جمهور ريس اوباما د بې وسلو کولو پلوي دې له ده نه مخکې ) بزبن خاو) د امريکا لمړې جمهور ريس و چي د بې وسلو کولوپلوې و خو( بزن خاو) هغه وخت د بې وسلې کولو خبرخپورکړه چي د واکمنې دوره بې پاې ته رسېدلې وه دوهم جمهور ريس( ريګن ) و چي د ا بس لېند په پلازمينه ريکاوکې کې د بې وسلو کولوخبر ورکړه او( ګر بچوف ) ورسره ومنله هغه وخت د امريکا جمهور ريس سره په خوا کې د مشورې څوك نه ودواړومشرانو د وسلو بندول ومنل او وې وېل چي ټولې زرروي وسلې به له منځه وړو خو کله چي ريګن دا خبره خپل خارجه وزير(شولڅ) ته وکړه هغه حېران پاتې شوچي دا کار دې څنګه وکړه او دهمغه ځاې نه پيل شوه او اوس برعکس اوباما واې چي مونږ (( ته لازم دي چي د وسلو نه ځان خلاص کړو)) او زمونږ جمهورريس مېدوېدف واې (( نه)).



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

له دې نه معلومېږي چې جمهور ریس مېدوېدف غواړي چې مونږ سوپر ځواك اوسو ، دلته وېلاې شو چې مونږ په رېښتيا د امريكا نه نه وروسته اول او يا دوهم د اتمي وسلو ستر قدرت يو پوښتنه : سوال داسې مطرح كوم : د افغانستان مسله يوه داسې مسله ده چې په د ې مسله كې امريكا او روسېې دولتونه په زړه پاك نه دي يو بل ته دوكه وركوي ، امريكا افغانستان ته راغلي غواړي خپله ستراتيژي پلې كړي بلې؟ نو په دې خاطر دا د هغوې له پاره رېښتيني جنگ دې، د امريكا سره د ترهگرو، نېشه يې توكو او داسې نورو تشويش نه شته ، او زمونږ لمړي ستونزې د افغانستان سره مخدره توكي دي چې په ډېره پراخه پيمانه زمونږ هېواد ته قاچاق كېږي،ځكه مونږ دلته د افغانستان سره په جغرافېايي موقيعت كې نژدې يو، امريكا له پاره دا سوال دومره د تشويش وړ نه دې ، ولې چې د افغانستان نه ډېره لرې پرته ده.
جواب : بلې د هغوې ستونزې د كلومبيا او لاتني امريكا سره دي پوښتنه : بلې . د ستونزو د حل لارې شته ، كه هر يو ستونزو ته د خپلې زاوېه نه گوري نو د حل لاره يې هم بېله ده ، لكه چې تاسو ياداوري وكړه چې د لندن كنفرانس د افغانستان په هكله جوړ شوې و د يو بل نظرونه سره ورته نه و.

په روسېې كې متل دې واي ( زه په اېوان او ته په احمق ) ؟ (( په پټي كې اقطي او په كېف كې كاكا )) څه شې اوكوم يو په زړه پورې دي زمونږ نظر يو د بل سره سر نه خوري خو يو بل ته اړيو ، ځما مطلب د امريكا او روسي هېواد نه دې هر يو غواړي يو بل ته دوكه وركړي .
پوښتنه : د ا يواځې په افغانستان كې د دوې نظرداسې دې او كه په نورو هېوادو كې هم ؟ جواب : په صورت عموم سره ، خو دلته مونږ د افغانستان په باره كې خبرې كوو دلته له وراېه برېښي : چې يو بل ته په زړه كې خبرن دي په دې هم پوهېږو چې يو بل ته اړ هم دي، د روسېې دولت غواړي د امريكا په لاس په افغانستان كې چټل او ناولي كارونه تر سره كړي ، امريكا واې چې د روسېې دولت دې هم زمونږ سره په دې ناولي او چټل سپاست كې راگډ شې او ځان دې په كې ناولي كړي .
پوښتنه : زمونږ اصول څه د ي ؟
جواب : واضح خبره ده چې مونږ د خپلو اصولو پلوېان يوغواړو په خپلو لاسونو ځان ناولي كړو او هغوې غواړي چې مونږ خپل لاسونونه دهغوې په اصولو ناولي كړو پوښتنه : تر څه وخته ؟ جواب : يوه تجربه او بس .
پوښتنه : ولې ؟
څومره چې زه پوهېږم ،هغوې وائي چې مونږ داسې سره نه دي وېلې ؟

جواب : په دې خاطر هغوې چې څه واې او مونږ يې و نه منو بيا غوسه ورځي او هر څه له مونږ نه انگري ، دادې په راتلونكې نژدې كې اوباما او مېدوېدف سره لېده كاته كوي، او د ا سوال به ددوې د خبرو موهم ټكې وې ، هغوې به مونږه خطا باسي او مونږ به هغوې : اوباما به واې : (( اجازه راكړې چې درته په گوته كړم چې نن په روسېه كې د مخدره توكو محطاط ځوانان مخ په زياتېدو دي ، او د روسيې په شمالي ولايتونو كې حالت كړكېچن دي، حتي څو ورځې مخكې د اينگوشېت د كورنيو چارويه وزير وسلواله حمله وشوه ، او تاسې مونږ ته په خپله خاوره كې د التولو اجازه نه راكوې، اگر چې په دې موافقه شوې او دواړوجمهور ريسانو ، د روسانو د قواوو لوې درېستېز او همداسې د متحدو قواوا د امريكا لوې قوماندان په خط لاس ليك كړي دې ، نه پوهېږم چې ستونزه په څه كې ده؟ او مونږ به بياهغوې ته وايو )چې تاسې په افغانستان كې د ترهگرو په وړاندې جنگ نه بلكې دعامو خلكو په وړاندې جنگ پېل كړې دې، تاسو دلته غواړ خپلې نظامي اډې جوړې كړې او دا دې پاكستان ته مو پينه اوړده كړې)) او داسې نورې نيوكې.
په رېښتيا مونږ نه غواړوچې د امريكا نظامي هډې دې په افغانستان كې پرتې وې ؟ مونږ ته اسلامي بنياد گران دومره خطرنا ك نه دي لكه چې د امريكا نظامي اډې ، مونږ هلته په چكسلواكېه او پولېنډ كې د دفاعي سېستم سره موافق نه يو او دوې دلته په بغل كې راته پخې نظامي اډې جوړوي.
پوښتنه : او دا هم ورته وايو چې په افغنستان كې د شوروي اتحاد جوړې شوې پروژې چې ړنگ شوي په خپلو پيسو ابادې كړې.
جواب : بلې.
پوښتنه : كه چېرې د شوروي اتحاد وختونو ته لاړ شو او د روسانو د سرو لښكرو ورننوتل او بيرته وتل د امريكا د وسلوالو ځواكونو سره پرتله كړو ډېر اړخونه يې يو بل سره لگېږي ، تاسو ددې په هكله كومه پيش بيني كولاې شې ؟
جواب : كه تاسې د افغانستان د جنگ په هكله د عامو خلكو نظر راټول كړې ډېر ورته والې لري، په تعصب سره بايد ووايم چې دلته په روسيه كې دافغانستان د جگړې سره يواځې دوه قوتونو مخالفت لاره : اول قوت د هغه سربازانو مېنډې وې چې په افغانسان كې جنگېدلېې و او دوهم قوت( ساخر) او د هغه ملگري و، كه ستاسو په ياد وي ساخر يې په دې تورن كړه چې وطن پلورونكې دې ، د وكيلانو په كنگره كې يو سرباز چې د افغانستان په جنگ كې دواړه پښې له لاسه وركړې وې په ساخر تور ولگاوه چې وطن پلورونكې دې ، واكمنو د اسې معېوب چې دواړه پښې غوڅې شوې وې له كومه را پيدا او د ساخر په مقابل كې ودراوه ،ساخر هغه ته هېڅ نه شو وېلاې ځكه هغه د لوړ شخصېت او كركټرخاوند و هغه دې بې پښو انسان ته نه شو وېلاې (( چې په ما گرانه تا خپلې پښې ځما په خاطر له لاسه نه دي وركړي تا خپلې


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

پښې د هغه چا په خاطر له لاسه ورکړي چې ته یې افغانستان ته استولي وې ، زه وطن پلورونکی نه یم ، وطن پلورونکي هغوی دي چې ته یې د افغانستان دوزخ ته چې وسپنې په کې وېلې کېږي استولای وې )) پوښتنه : زمونږ سربازان او د امریکا سر بازان چې په افغانستان کې جنګېدلي د هغوی او دوی سره څه ډول برخورد کیږي؟ جواب : تاسي پوهيږي چې هلته په افغانستان کې څه خبره ده ؟ هلته اوس عام خلك واي چې روسان د امریکاپانو په پرتله ښه خلك و پوښتنه : افغا نان اوس په یاد راوړي چې روسان د امریکاپانو په پرتله څوځله ښه و ؟.
جواب : بلې . افغانانو چې د امریکا او متحدو ځواکونو بد کارونه ولیدل اوس د روسانو ارمان ورځي، دا روښانه ده ، چې مونږ نه پوهيږو اونه شوکولای چې حالات درست او علمي وسنجو او عمل پې وکړو ، لکه چې امریکاپان یې کوي ، مونږ غوښتل په افغانستا کې په یو وار سوسیالیزم جوړ کړو خو هغه وسله چې د سوسیالیزم له پاره په کار وه استفاده مو ترې ونه کړه یواځې مو وزپوو ، مونږ باید بل یو څه کړي وای، ځکه هلته د کمونستانو څو رهبران و چې په نوبت سره به برېژنف ترې چپې اخسلې او زمونږ خاص ګارد به بیا په نوبت سره ترې ژوند اخیسته، په اخر کې چې کله دافغانستان څخه ووتلو بیا موهلته نجیب الله د یووخت له پاره پرېښود، نجیب الله یې ونیو، وې واژه او بیاې سرښکته کونه پورته وزړاوه، که چیرې د امریکا وسلوال ځواکونه له افغانستانه ووځي طالبان کابل ته راځي او کله چې طالبان کابل ته راننوتل او کرزي په وخت سره غرب ته پښې سپکي نکړې د نجیب الله په سرنشت به اخته وي.
پوښتنه : د امریکا له پاره په افغانستان کې تاسي کوم روښانه وریانتې ویني؟ جواب : روښانه وریانتې هغه دې چې د اوباما لیبرال دیموکراتان یې وای (( که چیرې اوباما په ریښتیا لوي جمهور رییس وي حتما باید غټ ګام پورته کړې او د دوهم ځل د جمهوري رېاست په فکر کې نه شي او لاړې ورتوکړي او وسلوال ځواکونه له افغانستانه وباسي)) دا یې علمي اړخ نه دې.
پوښته : که هغوی خپلې قواوې وباسي هلته څه پیښیږي ؟ جواب : طالبان بیرته کابل ته راځي پوښتنه : سل به سلو کې ؟
جواب : بلې د شریعت قانون به پلې وي او بیا به همغه دېګ او همغه ټیپر وي لکه چې د امریکاپانو نه دمخه و.
پوښتنه : او د اوباما له پاره؟ داسي ګټې کيږي ؟ که تاسي د امریکا د هرجمهور ریس سیاسي دریز له نظره تېر کړې هر یو د جنګ پلوي دی په دې خاطر چې خپله امبار کړې وسلې په مصرف ورسوي هغوی مجبور دي چې دا کار وکړي ، د هغوی له پاره دا یو تاریخ دې، اوباما باید چیرته وي، دلته یا هلته ؟ جواب : نه زه دا فکر نه کوم چې اوباما دې د وسلو جوړونکوته دا پرست ورکړي چې د وسلو له لارې یې په پیسېو خپتې وپرسیږي ددې کلمې د وېلو نه عفه غواړم ، دا سمه ده چې د امریکا ټول جمهور ریسان د جنګ پلویان وه ، د (وېلسون) په واکمنې کې اول نړیوال جنګ پیل شو ، د (روزویلټ) په واکمنې کې دوهم نړیوال جنګ د (ترومېنا) په واکنې کې په کوریا کې او بیا جونسن او نېکسن په ویتنام کې ، غټ بوش په عراق باندې اوله حمله وکړه او وړوکي بوش د دوهم ځل له پاره په عراق او افغانستان ور ودنګلې ، او اوس په حقیقت کې د افغانستان جنګ د اوباما جنګ شو،اوس اوباما نه شي کولاې چې د چا په حواله چې زه ملامت نه یم په افغانستان کې چې جنګ پیل کېده زه جمهور ریس نه وم .
یولسم د سپتمبر نه وروسته کله چې امرېکاپانو په افغنستان راودنګلې او په زرګونو افغانان یې له تیغه تېر کړل بهانه یې دا وه چې دا زمونږ دشمنان دي له بېنه وړو خو کله چې په توره بوره کې د القاعدې او طالبانو رهبران پرېښودل اوپاکستان د سیاست مېدان ته راووت دا بل سوال دې.
داهم له یاده ونه باسو چې په پاکستان کې واك لړزانه دې باور یې نه شته ددې امکانات ډېر دې چې هره لحظه سیاسي واك دېو او بل ګوتو ته ورشي او دا هم له یاده ونه باسو چې پاکستان اتمي ځواك دې او دلته په منطقه کې که حالات له کنترول نه ووځي خطرناك عوا قب د ځان سره لري .
پوښتنه : کولاې شو ووایو له دې وجې به اوباما ته به په بهرنې او کورنې سیاست او په داخل د ګوند کې ستوزې را وزیږیږي ؟
جواب : تاسو پوهیږې ؟ کله چې اوباما سپینې ماڼې ته راغي په هغه وخت کې د امریکا په وړاندې ډیرې ستونزې پرتې وې، اقتصادي بحران و بیا جنګ و او د خلکو په منځ کې اختلافات اوج ته رسیدلې و که اوباما په ځای (روزویلټ) هم وې ددې توان یې نه لاره چې هر څه کنترول او اداره کړي ، اوبآما چې څه امکانات په وس کې لرل په کاروا چول او د اقتصادي بهران نه د وتلو لاره یې پیدا کړه اګر چې تر اوسه د مالي سیما په ساحه کې ډېرې ستونزې لري چې له ځینو غوښتونونه هم تېر شو خوسره له ستونزو په دې وتوانیده په کانګریس د صحبې بیمې عام قانون منظور کړي ، اوباما اوس هم دا وائي چه په عراق کې باید جنګ نه وي، په داسي حال کې چې په عراق کې امریکاېي وسلوال ځواکونه پراته دي، خو نوري دندې تر سره کوي : هغوی اوس مخامخ د دښمن سره نه جنګیږي، یواځې خپل ځان ساتي او نور تربیه کوي ، افغانستان د اوباما له پاره په سیاسي ژوند کې د مرګ او ژوند خبره ده سره له دې د بوش په پرتله ځان ته تسلي ورکوي او واې چې په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان څخه قواوې وباسو(( څه فرق کوي ۲۰۱۰ کال او که ۲۰۱۱ کال ؟ اوباما داسي فکر کوي چې د ۲۰۱۱ کال پورې به القاعدې او طالبان له منځه ووېسي ؟ طالبان هغه نه شي له بېنه وړلای –اوباما یواځې دا کولاې شي چې په افغانستان کې ډېر زیات عام خلك له بېنه ووېسي او ټول پښتونستان په ګولېو هوار کړي ، زه نه پوهیږم ټول باید ووژني، او که نه بله لار نه شته .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

اوباما کوم خاص وړاندیز نه وړاندې کوي چې دحل لاره ولري هغه (( کله واې چې افغان دولت ددې توان پېدا کړي چې هرڅه کنتول کړاې شي ، او وسلوال ځواکونه بې د دطالبانو سره مقابله وکړاي شي)) او داسې نورې ... تاسو پوهېږې چې هلته څه تېرېږي؟ هلته په افغانستان کې پولیس په وظېفه ټاکل کېږي بو څو وخته وظیفه اجرا کوي ، پېسې د جبه کړي بېا په خپل سر دنده پرېږدي څو وخته وروسته بېا راځي او (( واي چې زه بېا غواړم په پولیسو کې وظیفه اجرا کړم )) هغه ته بېا معا ش ورکوي آو بېا واې چې زه په اوردو کې وظیفه اجرا کوم ، کله چې وسله ورکړه بېا د وسلې سره تېښتي او طالبانو ته ورځي دا لړې روانه ده پرمختګ نه لیدل کېږي، او د کرزي په ارتباط ،هغه مطلق بې صلاحته ولسمشر دی ، خو د هغه ورور د افغانستان د مخدره توکو پاچا دې .
پوښته : چې داسې ده ولې امریکاېان ملاتړ کوې ؟

جواب : په دې خاطرېې ملاتړ کوې ځرنګه چې واې بدیل نه لري ، که چېرې هغوې ددوې په سېاسي پروسه کې ښکاره لاس ووهي سېاسي کړکېچونه راتود وي او لاس ته راوړني نه لري ، او نن د امریکا حالات زمونږ د وخت حالاتو ته ورته دي، اول نورمحمد ترکې د هغه نه وروسته بل کوم بو، بیا ببرك کارمل او په اخر کې نجیب الله ټول ووژل شو او په دار وتړل شول .
پوښتنه : هر څه چې و ټول تېر شو ...
جواب : بلې ټول تېر شول د ګروموف د بېرغ لاندې .
پوښتنه : ماته ډېره په زړه پورې د ه چې د بارك اوباما په باره کې ستا نظر واورم ، هغه د بو ښه قسمت خاوند دې چې ناڅاپه واکمن شو ، بلې. ؟ بارك اوباما تور پوټکې ، ښکلې او ښه ځواني لري ، آو د امریکا خلك ترې څومره غوښتني لري، تاسو مخامخ د هغه او د امرېکا د ټولو واکمنانو د سېاسي او شخصي ژوند څارنه کړې اوباما بو غښتلي جمهور ریس دې ؟
جواب : بلې ، هغه عجېب و غرېب مقناطسي خصوصېات لري ، کله چې هغه د ماېکروفون څنګ ته راښکاره کېږي د ټولو اورېدونکي بې خبرې د زړه په مینه اوري او اومېدونه بې را ژوندي کېږي ...
سوال : زورور جمهور ریس نه دې... ؟
جواب : هغه بو اوښېار او د پوهې خاوند دی تعلیم ېافته او عقل مند دې ، سره له دې بېا هم دده لپاره لېکني دوه ځوانان چې بو بې په عمر ۲۹ کلن او بل بې ۲۳ کلن ځوانان دې لېکني کوي او دا بېا هغه لېکني په داسې هنر لولي چې ټول اورېدونکي د تا ثیر لاندې راولي ، د خلکو سره بې برخورد د مینې ډك دې بو ورځ بې ځما د مېرمنې لاس چپ کړې و چې تر اوسه بې په زړه کې ځاې لري.
پوښتنه : تاسو هم د هغه سره لېده کاته کړي ؟ جواب : بلې ما خپله د اوباما سره لېده کاته کړي دي نو ځکه بې ځما د مېرمنې لاسونه چپ کړي، هغه بو داسې لېډر دې چې خلك ځانته راجلبوي، د هغه د جزب قوه ډېره زوروره ده، او د ې او س باېد داسې کار وکړي چې دخلکوزړونه خپل کړي داچې امریکاېان دهغه څخه څومره تمعه او توقوع لري ، واضح خبره ده چې هغه تمه چې ترې کېږې پوهېږې ، هغومره امکان نه شته لکه چې بو شاعر واي ( که څوك د بر کار وکړي بېا هم داسې معلومېږي چې هېڅ بې نه دي کړي) او دلته هم داسې .
پوښتنه : هغه تا ماېوسه کوي ؟
جواب : نه هغه ما نه نهیل( ماېوسه) کوي ، ځکه ما ډېر سېاست پوه لېدلي چې د خلکو په زړه کې ځاې لاره چې ځېنې په سېاسي ډګر کې ناکام او ځېنې برېالي راوتلې دي او ځېنې بېا بو دولتي عادې کارکونکې ، د مسال په توګه ګرباچوف او ېلسن مقاېسه کوو ېلسن خارقلعاده خوصوصېات لرل ، اوګورې نتیجه بې څه وه ، د او باما او د ېلسن حالات بودي ، که اوباما د ېلسن سره پرتله کړو ، ېلسن چې هر څه غوښتل هغه بې کولاې شول –او اوباما بېا هغسې نه شي کولاې : هلته په امریکا کې کانګرس دې ، هلته قانون او محکمه ده ، هلته مطبوعات چې د قانون څلورم رکن دې ، هر څومره چې وغواړي او د دېکتاتورې مېتود نه کار واخلي ،د دېموکراتې سستم ورته اجازه نه ورکوي ، د تعجب خبره دا ده چې دلته دا ډموکراسي منفي رول لوبوي .
پوښتنه : ستاسو په نظر هغه تراژېدي فیګور دې ؟ جواب : بلې د هغه نه تراژېدي فېګور جوړېږي، تاسې پوهېږې د تورو پوټکو خلك هم دا سې نظر لري او ورته واې چې (( تا څه شې مونږ ته راکړل ؟ کله چې ته د امریکا جمهور ریس شوې زمونږ په ژوند کې بدلون نه دې راغلې ژوند مو بدبخته دې )) پوښتنه : ولې یواځې د هغوې ؟
هغوې داسې فکر کوي چې اوباما ددوې تورپوستې دې هغه باېد حتما بو څه وکړي، د مسال په توګه په شوروي اتحاد کې ستالېن د ګورجېستانېانو له پاره څه وکړل، تاسې پوهېږې چې ګورجستان د ستالېن د دېکتاتورې په وخت کې د ټولو نه زېات زېان لېدلي دې ؟ لکه چې ناپلېون کورسیکو ته په بده کتل، دلته تورپوستان نه پوهېږي چې دهغه په لاس کې هېڅ نه شته او نه څه کولاې شي .هغه غواړې چې بو څه وکړي خو نه بې شي کولاې ځکه بېا خلك ورت واې چې.( ته د ټولې امریکا جمهور رئیس نه بې ته د تورپوستانو جمهور رئیس) نو پدې خاطر هغه د تورپوستانو سره نثبت سپین پوستانو ته سخت چلند کوي، ټول په دې نپوهېږي خو غټ سېاست کونکي پدې ښه پوهېږي، پاوېل چې تورپوست و پوهېده چې ولې داسې کېږي ځکه هغه هم یو وخت غوښتل چې جمهور رئیس شي خو عادي تورپوستان بېا دا درك نه لري.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de